
# د حضرت مُعاویہ رضی اللہ عنہ
# شان او اوصاف

08-Jan-2026



پهٔ 8 جنورى، كال 2026ء (بمطابق: 19 رجب شريف، كال 1447ھ) د پاكستان پهٔ هفته وارو اجتماعاتو كښې كيدونكے بيان

# د حضرت مُعاوِيَه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ شان او اوصاف

په دې بيان كښې به تاسو زده كړئ...

- د اِيمان نه د خلاصيدو خطره
- جبرائيل عَلَيۡهِ السَّلَام سلام اوكړو
- امير معاويه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ هادي او مَهدي دے
- د ټولو نه لوئي سردار څوک؟

پیشکش

اَلْمَدِیْنَۃُ الْعِلْمِیَۃ

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامي)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ ط
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله
اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے:

اَلصَّلَاةُ عَلَيَّ نُوْرٌ عَلَى الصِّرَاطِ وَمَنْ صَلّٰى عَلَيَّ يَوْمَ الْجُمُعَةِ ثَمَانِيْنَ مَرَّةً غُفِرَ لَهٗ ذُنُوْبُ ثَمَانِيْنَ عَامًا

ترجمه: په ما باندې دُرود لوستل په پل صراط باندې نُور دے، څوک چې د جُمعې په ورځ په ما باندې 80 کرته دُرُودِ پاک لولي د هغهٔ به د 80 کالو ګناهونه معاف شي۔ (1)

نورِ علم و حکمت والے | نافذ جاری حکومت والے
رب کی اَعلیٰ خلافت والے | تم پر لاکھوں سلام
تم پر لاکھوں سلام (2)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

په حديثِ پاک کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار په نيتونو دے۔ (3)

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! په ښو ښو نيتونو د عمل ثواب زياتيږي۔

---

1...مسند فردوس، جلد:2، صفحه:408، حديث:3814۔

2...سامانِ بخشش، صفحه:89۔

3... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حديث:1۔

راځئ چې د بيان اوريدو نه مخکښې څۀ ښۀ ښۀ نِيَّتونه وکړئ: مَثَلاً ❀ د اللّٰه پاک د رضا د پاره به تول بيان اورم ❀ پۀ اَدب به کښينم ❀ ښۀ پۀ توجُّه به بيان اورم ❀ څۀ چې واورم، د هغې به د يادولو، ښکپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د محبوب ادا، ادا کووم

حضرت اَبُو اُمَامه بن سَهل بن حَنِيف رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: يو ځل حضرت امير معاويه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پۀ منبر باندې تشريف فرما وو او مؤذِّن اذان کولو، مؤذِن ووئيل: اَللّٰهُ اَكْبَرُ اَللّٰهُ اَكْبَرُ۔ حضرت امير معاويه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ هم ووئيل: اَللّٰهُ اَكْبَرُ اَللّٰهُ اَكْبَرُ۔ مؤذِن ووئيل: اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ۔ هغوئي ووئيل: وَاَنَا (يعني زۀ هم ګواهي ورکووم چې د اللّٰه پاک نه علاوه هيڅ معبود نشته)- مؤذِن ووئيل: اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰه۔هغوئي ووئيل: وَاَنَا (يعني زۀ هم ګواهي ورکووم چې مُحَمَّد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اللّٰه رسول دے)- داسې مؤذِن اذان کولو او هغوئي د اذان جواب ورکولو، کله چې اذان مکمل شو نو هغوئي خلق مخاطب کړل او اوئې فرمائيل: اے خلقو---!! ما ليدل چې داسې رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ منبر باندې تشريف فرما وو، مؤذِن اذان کولو، نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اذان پۀ جواب کښې هٰغه څۀ وفرمائيل، کوم چې ما ووئيل (لهذا ما د رسول اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مبارکې ادا پۀ ادا کولو سره د اذان جواب ورکولو)- (1)

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| خائِفِ کبريا | حضرت معاويه | عاشقِ مصطفٰے | حضرت معاويه | | |
| خُوب رُوخوش ادا | حضرت معاويه | خُوش نما خُوش لقا | حضرت معاويه | | |
| مخلص و باوَفَا! | حضرت معاويه | باعمل بےريا | حضرت معاويه | | |
| جنّتي بےشُبہ! | حضرت معاويه | باخُدا باصفا! | حضرت معاويه (2) | | |

1...فتح الباری، کتاب الجمعة، باب يجيب...الخ، جلد:2، صفحه:509، زير حديث:914۔

2...وسائلِ فردوس، صفحه:57و 58 ملتقطاً۔

وضاحت: با خُدا: يعنې په خدائے مې دې قَسم وي- با صفا: يعنې په باطني خوبيانو ښکلے-

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د اذان جواب ورکوئ!

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د حضرت امير معاويه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د دې مبارک عمل نه دوه خبرې د زدکړې د پاره ميلاؤ شوې: (1): وړومبے دا چې هغوئي د نيکئ د دعوت ورکولو ډېر حرص لرلو او اوس د کمال خبره دا ده چې صرف په خُله باندې د وئيلو تر حده پورې به يې دعوت نۀ ورکولو بلکې په عمل کولو به يې هم دعوت ورکولو، هغوئي په منبر باندې په کيناستو ېخپله په عملي توګه د اذان جواب ورکړو، بيا يې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ادا بيان کړه چې لکه څنګه ما اوکړل ، هم دا د رسولِ ذِيشان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عمل مبارک دے، څکه اے عاشقانِ رسول! تاسو هم د اذان جواب ورکوئ!

(2): دويمه خبره د زدکړې د پاره دا ميلاؤ شوه چې د اذان جواب ورکول د رسولِ اَکرم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پاکه ادا هم ده او ډېر د ثواب کار هم دے-

عام طور دلته د دې اساني نيکئ طرف ته توجه نۀ کيږي، اذان کيږي خلق په خپلو کارونو کښې، خبرو وغيره کښې مصروف وي- دا ښه خبره نۀ ده- په بهارِ شريعت کښې دي: کله چې اذان کيږي نو د هُغه همره وخت د پاره سلام او کلام او د سلام جواب او ټول کارونه ودروئ د دې پورې چې تِلاوت هم، اذان په غور سره واورئ او جواب يې ورکړئ- د اذان په وخت ګرځيدل، لوبې، ګلاس وغيره څۀ څيز اوچتول، خوراک وغيره کيښودل، د وړو ماشومانو سره لوبې کول، په اِشارو سره خبرې کول وغيره هر څۀ ودرول مناسب دي-(1)

---

1 ...بهارِ شريعت، جلد:1، صفحه:473، حصّه:3 مفصلاً-

## د اِيمان نه د خلاصيدو خطره

څوک چې د اذان په وخت په خبرو کښې مشغول وي، د هغهٔ مَعَاذَ الله! د خرابې خاتِمې (يعنې په اخري وخت کښې د اِيمان نه د خلاصيدو) خطره ده۔ [1]

## درې کروړه 24 لاکهه نيکۍ وګټئ

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د اذان جواب ورکول يوه اسانه نيکي ده۔ د حديثِ پاک مطابق که يو اِسلامي ورور په اهتمام سره روزانه د 5 اذانونو او د 5 اِقامتونو په جواب ورکولو کښې کامياب شي نو هغهٔ ته به درې کروړه **24** لاکهه نيکۍ ميلاويږي، درې لاکهه **24** زره درجې به يې اوچتيږي او درې لاکهه **24** زره ګناهونه به يې معاف کيږي۔ [2]

لهذا چې کله هم اذان کيږي، ټول کارونه پريږدئ او د اذان جواب ورکړئ! او ښهٔ ډير ثواب وګټئ!

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د حضرت اميرِ معاويه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ مختصر تعارُف

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** حضرت امير معاويه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د اوچتې مرتبې صحابئ رسول دے ✿ هغوئي پخپله هم صحابي دے ✿ د هغوئي والدِ محترم حضرت ابو سفيان رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ هم صحابي دے ✿ د هغوئي مور محترمه حضرت هنده رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا هم صحابيه ده ✿ د هغوئي خور حضرت اُمِّ حبيبه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا صحابيه هم ده او زمونږه د مسلمانانو خوږه مور جانه يعنې د محبوبِ ذيشان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کور وداني محترمه هم ده۔

---

1...بهارِ شريعت، جلد:1، صفحه:473، حصّه:3۔

2...فيضانِ اذان، صفحه:6، ملتقطاً۔

حضرت امير معاويه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ زمونږه د خوږې مور جاني وروردے، ځکه علمائے کرام هغوئي ته خَالُ المُسلِمِين (يعني د مسلمانانو ماما ) وائي-

❁ حضرت امير معاويه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نبوت د اِعلان فرمائيلو نه 5 کاله مخکښې په مکه مکرمه کښې دُنيا ته تشريف راوړلو ❁ هغوئي په قد مبارک کښې دَنګ وو ❁ رنګ يې سپين او ښکلے وو ❁ شخصيت يې رُعب دار وو ❁ عَلّامه حُسَين بن محمد دِيار بَکري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: حضرت امير معاويه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ رُعب او دبدبے والا، دُور انديش، بهادر، سخي او بردباره بادشاه وو ❁ حضرت امير معاويه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د صلح حُدَيبيه په ورځ يعني په 6 هجری کښې اِسلام قبول کړو- (1)

## د صحابۀ کرامو عَليهمُ الرِّضوَان شان

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** حضرت امير معاويه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ صحابئ رسول دے او اَلْحَمْدُلِلّٰه! ټول صحابۀ کرام رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُم ډير د اوچتې مرتبې والا، ډير د لوئي شان والا دي- په قرآنِ کريم کښې د دې ټولو سره د جَنَّت وعده فرمائيلے شوې ده- اِرشاد دے:

| | |
|---|---|
| وَ كُلًّا وَّعَدَ اللّٰهُ الْحُسْنٰى ؕ (پاره:27، سورۂ حديد:10) | **ترجمه كنزُالعِرفان:** او دې ټولو سره الله د ټولو نه د ښۀ څيز وعده فرمائيلې ده- |

معلومه شوه چې ټول صحابۀ کرام رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُم جنتيان دي- (2)

---

1...فيضانِ امير معاويه، صفحه:25171615 ملتقطاً-

2...تفسير قرطبى، پاره:27، سورۂ حديد، زيرِ آيت:10، جلد:9، جز:17، صفحه:152 ماخوذاً-

| | | | |
|---|---|---|---|
| هر صحابِي نبي! | جَنَّتي جَنَّتي | تولي صحابِياتي هُم! | جَنَّتي جَنَّتي |
| څلور ياران د نبي! | جَنَّتي جَنَّتي | حضرتِ صديق هُم | جَنَّتي جَنَّتي |
| او عُمر فاروق هُم | جَنَّتي جَنَّتي | عُثمانِ غني | جَنَّتي جَنَّتي |
| فاطِمه او علي | جَنَّتي جَنَّتي | دي حسن حُسين هُم | جَنَّتي جَنَّتي |
| والدين د نبي | جَنَّتي جَنَّتي | هره بي بي د نبي | جَنَّتي جَنَّتي |
| دے مُعاوِيه هُم | جَنَّتي جَنَّتي | او ابو سُفيان هُم | جَنَّتي جَنَّتي(1) |

پۀ نهمه سيپاره، د سُورَةُ الاَنفَال پۀ څلورم نمبر آيت کښې اِرشاد دے:

اُولٰٓىٕكَ هُمُ الْمُؤْمِنُوْنَ حَقًّاؕ لَهُمْ دَرَجٰتٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَ مَغْفِرَةٌ وَّ رِزْقٌ كَرِیْمٌۚ(۴)
(پاره:9، سورۂ انفال:4)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: هُم دا رښتيني مسلمانان دي، د دوئي د پاره د دوئي د رَبّ سره درجات او بخښنه او د عزت والا رزق دے۔

پۀ يولسمه سيپاره، د سُورَةُ التَّوبَة پۀ آيت نمبر: 100 کښې اِرشاد دے:

رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَ رَضُوْا عَنْهُ وَ اَعَدَّ لَهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِیْ تَحْتَهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِیْنَ فِیْهَاۤ اَبَدًاؕ ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِیْمُ(۱۰۰)
(پاره:11، سُورَةُ التَّوبَة:100)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: د هغوئي تولو نه الله راضي شو او هغوئي د الله نه راضي دي او هغه د هغوئي د پاره باغونه تيار کړي دي د کومو لاندې چې نهرونه بهيږي هميشه هميشه به پۀ هغې کښې اوسيږي، هُم دا لويه کاميابي ده۔

سُبْحٰنَ الله! د دې آيتونو مبارکو نه معلومه شوه چې د حضرت امير معاويه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُ سره سره تول صحابۀ کرام عَلَیهِمُ الرِّضوَان د الله پاک نه راضي دي، الله پاک د دوئي نه راضي دے، تول رښتوني، پاخه، د کمال نه ډک مؤمنان دي، تول د اوچتو مرتبو والا دي، د تولو د پاره

1...وسائلِ فردوس، صفحه:53۔

بخښنه ده او ټول جنتيان دي-[1]

دو عالَم نہ کیوں ہو نثارِ صحابہ | کہ ہے عرش منزلِ وقارِ صحابہ
امیں ہیں یہ قرآن و دینِ خدا کے | مدارِ ہدیٰ اعتبارِ صحابہ
نمایاں ہے اسلام کے گلستاں میں | ہر اِک گُل پہ رنگِ بہارِ صحابہ
کمالِ صحابہ، نبی کی تمنا | جمالِ نبی ہے قرارِ صحابہ

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د حضرت امير معاويه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پهٔ شان کښې يو څو احاديث مبارک واورئ!

## جبرائيل عَلَیْہِ السَّلَام سلام اوکړو

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ډير قابلِ اعتماد صحابهٔ کرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم کومو ته چې به رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د قرآنِ کريم د ليکلو ذمه واري ورکوله، پهٔ هغوئي کښې يو حضرت امير معاويه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ هم دے- د حضرت عبد الله بن عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُما نه روايت دے- يوه ورځ حضرت جبرائيل عَلَیْہِ السَّلَام بارګاهِ رسالت ته حاضر شو او عرض يـې اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! معاويه ته زما سلام وايئ، هغه د کتابُ الله (يعني د قرآنِ کريم) او وَحي امين دے- [2]

کاتِب ہے جو کلامِ خُدا و رسول کا، پکّا اُصُول کا
ہر زاویہ ہے جس کا ذہانت کا زاویہ، وہ ہے معاویہ
راوی ہے جو حدیثِ رسالت مآب کا، کاتِب کتاب کا
نوکِ زباں ہیں جس کے فیوضِ سَماوِیہ، وہ ہے معاویہ

---

1...تفسير بغوی، پارہ:11، سورۂ تَوْبَه، زيرِ آيت:100، جلد:2، صفحه:319خلاصةً۔
2...معجم الاوسط، جلد:3، صفحه:73، حديث:3902۔

## اللّٰه او رسول د معاويه سره محبت كوي

پۀ روايت کښې دي، يوه ورځ خوږ آقا، محبوبِ خُدا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مسلمانانو خوږې مور جانې حضرت اُمِّ حبيبه رَضِیَ اللہُ عَنْہا كور ته تشريف راوړلو، هُغه وخت حضرت امير معاويه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ هم هلته وو او د هغوئي خوږې خور يعني اُمُّ المُؤمِنين حضرت اُمِّ حبيبه رَضِیَ اللہُ عَنْہا د هغوئي د سَر وينښته ګمنځول، د خور او ورور د محبت نه ډک دا انداز يـې چې وليدلو نو د الله پاک خوږ نبي، مكي مَدَني، مُحَمَّد عربي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائيل: اے اُمِّ حبيبه! آيا تۀ د معاويه سره محبت کوې؟ عرض يـې اوكړو: دا زما ورور دے، د دوئي سره به مې محبت ولې نۀ وي؟ مالِکِ جنَّت، صاحبِ كوثَر صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائيل: الله او رسول هم د معاويه سره محبت كوي۔ (1)

د حضرت اَبُو دَرداء رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه روايت دے: سركارِ عالي وقار، مكي مَدَني تاجدار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: اے اُمِّ حبيبه! د معاويه سره محبت كوه! بے شكه زۀ د معاويه سره محبت كووم او زۀ د هُغه كَس سره هم محبت كووم څوک چې د معاويه سره محبت كوي، جبرائيل هم د معاويه سره محبت كوي، ميكائيل هم د معاويه سره محبت كوي او اے اُمِّ حبيبه! د جبرائيل او ميكائيل عَلَيهِمَا السَّلام د محبت نه زيات الله پاک هم د هغوئي سره محبت فرمائي۔ (2)

| | |
|---|---|
| معاویہ کے پیار سے ہمارا بیڑا پار ہے | گناہ بخشوائے گی شفاعتِ معاویہ |
| جو عاشقِ رسول ہیں وہ ان سے پیار کرتے ہیں | فقط منافقوں کو ہے عداوتِ معاویہ |

## درې كرته د جنَّت زيرے

د حضرت عبد الله بن عمر رَضِیَ اللہُ عَنْہما نه روايت دے، د غيبو نه خبر نبي، رسولِ هاشمي

---

1...ابن عساكر، جلد:59، صفحه:89۔

2...ابن عساكر، جلد:59، صفحه:89۔

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: اوس به ستاسو خوا له يو جنَّتي ګس راځي- هغه وخت حضرت امير معاويه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ حاضر شو، پهٔ دويمه ورځ يې بيا ارشاد وفرمائيلو: اوس به ستاسو خوا له يو جنَّتي ګس راځي، پهٔ هغه ورځ باندې هم حضرت امير معاويه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ حاضر شو، پهٔ دريمه ورځ يې بيا ارشاد وفرمائيلو: اوس به ستاسو خوا له يو جنَّتي ګس راشي- (سُبْحٰنَ الله!) پهٔ دريمه ورځ باندې هم حضرت امير معاويه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ حاضر شو- (1)

## معاويه! زهٔ ستا نه يم، تهٔ زما نه يې

پهٔ يو روايت کښې دي: حضرت عبد الله بن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُما فرمائي: خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حضرت امير معاويه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ته وفرمائيل: معاويه! زهٔ ستا نه يم او تهٔ زما نه يې- بيا نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دوه ګوتې يو ځائے کړې او اوئې فرمائيل: د جنَّت پهٔ دروازه باندې به تهٔ زما سره داسې يې- (2)

کاتِبِ وحیِ خُدا ہیں اِذْن سے سرکار کے | اور قطعی جنّتی بھی ہیں بفرمانِ رسول

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## امير معاويه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ هادي او مَهدي دے

پهٔ **ترمذي شريف** کښې دي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حضرت امير معاويه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ پهٔ حق کښې داسې دُعا اوکړه: اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ هَادِيًا مَهْدِيًا وَاهْدِ بِهٖ اے الله پاکه! ❁ مُعاوِيَه هادِي (يعني نورو له هدايت ورکوونکے) جوړ کړې ❁ هدايت يافته يې هم جوړ کړې او ❁ د دهٔ پهٔ ذريعه خلقو ته هدايت عطا کړې- (3)

---

1...مسند الفردوس، جلد:5، صفحه:482، حديث:8830۔

2...مسند الفردوس، جلد:5، صفحه:393، حديث:8530۔

3...ترمذی، کتاب:المناقب عن رسول الله، باب:مناقب معاويه، صفحه:866، حديث:3846۔

ھَادِی و مَہۡدِیۡ بھی ہیں اور ہیں ذریعہ رُشد کا | اُن کے دُشمن کی کوئی نیکی نہیں ہر گز قبول

علمائے کرام فرمائي: خلق په درې قِسمه دي: (1): ځيني هٔغه دي کوم چې پخپله په هدايت باندې دي خو نورو ته هدايت نهٔ کوي، څومره داسې بے نومه نيکان بندګان دي، کومو چې ځان د مخلوق نه لرې کړو، په غارونو کښې اوسيږي او عبادت کوي، دوئي پخپله په هدايت باندې دي خو نورو ته هدايت نهٔ کوي- (2): ځيني هٔغه خلق دي کوم چې نورو ته هدايت کوي، د نيکۍ دعوت ورکوي، بيان کوي، درس ورکوي، ښې خبرې بيانوي خو هغوئي پخپله په هدايت باندې نهٔ وي، پخپله ګناهونه کوي- (3): دريم قِسم هٔغه خلق دي کوم چې پخپله هم په هدايت باندې دي او نورو ته هم هدايت کوي- دا د ټولو نه افضل دي، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حضرت امير معاويه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُ په باره کښې دا دُعا اوکړه چې يا الله پاکه! معاويه د ټولو نه په افضله درجه کښې وساتې! هغه هدايت يافته هم جوړ کړې او نورو ته هدايت کوونکے يې هم جوړ کړې-[1]

## د هادي او د هدايت يافته فضيلتونه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! مونږ ته دا خو پته ولګيده چې کوم بنده پخپله هدايت يافته وي او نورو ته هم هدايت کوي (يعني پخپله نيک وي او نورو ته د نيکۍ هدايت کوي)، هغه د دوه قِسمه خلقو نه افضل دے خو د دې بنده خپله درجه څهٔ ده؟ راځئ چې دا خبره د رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شهزاده يعني د حُضُور غوثِ اعظم شيخ عبدُ القادر جيلاني رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَیۡه نه زده کړو- حضور غوثِ پاک، شيخ عبد القادر جيلاني رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَیۡه فرمائي: ❀ دا ګس (کوم چې پخپله په هدايت باندې وي او نورو ته د هدايت لار ښائي، دا) د الله پاک مَعرفت لرونکے دے ❀ دا هٔغه کس دے کوم چې الله پاک د خپلو آيتونو (يعني نخښو) عالِم جوړ کړے دے ❀ د دهٔ په زړهٔ کښې د نادِر او نايابه عِلم ملغلرې

1…فضائل معاويه، فصل: في فضائله ومناقبه، صفحه:72 ماخوذاً-

اېښودې شوي دي ❁ دا خوښ بنده دے ❁ دا مقبول دے ❁ الله پاک دهٔ ته هدايت عطا کړے ❁ الله پاک دهٔ ته پهٔ خپل قُرب کښې ترقي عطا کړي ❁ د عِلم د پاره يې د دهٔ سينه پرانسته ❁ دا يې د نيکئ دعوت ورکوونکے ❁ د عذاب نه ويروونکے جوړ کړو ❁ دا د انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام رښتونے نائب دے۔ (1)

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! غور اوکړئ چې رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حضرت امير معاويه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پهٔ حق کښې د يو څو لفظونو دُعا اوکړه او پهٔ دغه يو څو لفظونو کښې يې څنګه څنګه فضيلتونه وغوښتل--! سُبْحٰنَ الله!

انہیں دُعا نبی نے دی مہدی اور ھادی کی | ہر ایک شک سے دُور ہے، ہدایتِ مُعاوِیہ

## د امير معاويه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دوه اعلیٰ اوصاف

مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د صحابهٔ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم خصوصي اوصاف بيان کړي دي، پهٔ دې حديثِ پاک کښې د حضرت امير معاويه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پهٔ دوه خصوصي اوصافو بيانولو رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: وَمُعَاوِيَةُ بْنُ اَبِي سُفْيَانَ اَحْلَمُ اُمَّتِيْ وَاَجْوَدُهَا او مُعاويه بن اَبُو سفيان (رَضِيَ اللهُ عَنْهما) زما پهٔ اُمت کښې د ټولو نه زيات د حِلم والا او ډېر سخي دے۔ (2)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د حِلم او د سخاوت فضيلتونه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د دې حديثِ پاک نه د حضرت امير معاويه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دوه خصوصي اوصاف معلوم شول: (1): حِلم (2): جُود (يعني سخاوت)۔

دا دواړه ډېر اعلیٰ اوصاف دي، مونږ له هم اِختيارول پکار دي۔

---

1...شرح فُتُوح الغيب، صفحه:353۔

2...مسند حارث، كتاب المناقب، باب فيما اشترک فيه، جلد:1، صفحه:893، حديث:965۔

# د حِلم پهٔ فضیلتونو باندې حدیثونه مبارک

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! مونږ له هم حِلم اختیارول پکار دي! ❁ حِلم والا د الله پاک خوښ او محبوب بنده جوړیږي ❁ فرښتے د حِلم والا مددګارې وي ❁ د حِلم والا خلق تعریف کوي ❁ او حِلم والا انسان اوچتو درجو ته رسي ❁ سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: 5 څیزونه د انبیائے کرامو [عَلَيهِمُ السَّلام] سُنَّت دي، پهٔ هغې کښې یو حِلم دے۔ [1] سرکارِ عالي وقار، مَدَني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: بے شکه الله پاک د حِلم والا خوښوي۔ [2] ❁ پهٔ یو حدیثِ پاک کښې دي: د قیامت پهٔ ورځ به مخلوق جمع کړے شي، یو اعلان کولو به اعلان کوي: د فضل والا چرته دي؟ دا چې واوري نو څهٔ خلق به راپاځي او زر به د جنَّت طرف ته ورروان شي، فرښتے به د هغوئي نه پوښتنه کوي؟ تاسو زر زر د جنَّت طرف ته ولې ځئ؟ هغوئي به وائي: هم مونږه د فضل والا یو۔ فرښتے به ترینه پوښتنه کوي: ستاسو فضیلت څهٔ دے؟ هغوئي به وائي: چې کله پهٔ مونږ باندې ظلم کیدلو نو مونږه به صبر کولو، زمونږ سره چې به بد سلوک کیدلو نو مونږ به معاف کول او چې کله به زمونږ سره چا د جهالت والا سلوک کولو نو مونږ به د حِلم مظاهره کوله۔ [3]

| | |
|---|---|
| تُو عطا حِلم کی بھیک کر دے | میرے اخلاق بھی ٹھیک کر دے |
| تجھ کو فاروق کا واسطہ ہے | یاخُدا! تجھ سے میری دُعا ہے [4] |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

1…معجم کبیر، جلد:5، صفحه:324، حدیث:11282 ملتقطاً۔

2…سنن کبریٰ بیهقی، کتاب:النکاح، باب:ماجاء فی قبلة الجسد، جلد:7، صفحه:174، حدیث:13587 ملتقطاً۔

3…شعب الایمان، باب:فی حسن الخلق، جلد:6، صفحه 263، حدیث:8086۔

4…وسائلِ بخشش، صفحه:138۔

سُبۡحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! غور اوکړئ چې د حِلم (يعني د بردبارۍ، د برداشت د طاقت) څومره اعلیٰ فضيلتونه دي- خو افسوس چې نن سبا دلته د برداشت طاقت بالکل ورځ په ورځ کميږي- په معمولي معمولي خبره باندې خلق د غصې نه تَک سرۀ شي، د حده واوړي ، کنځلې کيږي، جنګ جګړې کيږي بلکې ډير ځل خو خبره د وژلو د حده پورې هم رسيږي-

په کورونو کښې وګورئ چې ❁ که د ماشوم د لاس نه لوښے پريوځي او مات شي نو په دې باندې مئيندې غصه کيږي، مور او پلار رټل شروع کړي ❁ که په غلطۍ سره چائے د لاس نه په جامو باندې پريوځي نو بيا خو سَم قيامت راشي، که څۀ دستوره وغيره وي، په هغې کښې داسې وشي نو بعضې وخت خو د دې په وجه ټوله دستوره هم خرابيږي، په دې معمولي خبره باندې دومره غصه کيږي چې د خوشحالۍ ښه ښکلے ماحول خراب کړي ❁ که د کور ودانې نه څۀ غلطي وشي ❁ اينګولے [يعني ترکاري] وسوزي ❁ مالګه زياته شي ❁ جامې د استرې کولو په وخت وسوزي ❁ په جامو وينځلو کښې څۀ کمے راشي، معمولي شان داغ پاتې شي- دلته په داسې وړو وړو خبرو باندې په کورونو کښې جګړې کيږي، جنګونه کيږي ❁ که د کشر وروړ نه څۀ غلطي وشي ❁ موټر سائيکل ترينه پريوځي ❁ معمولي شان نقصان وشي ❁ ماشوم دکان ته ليږلے شوے وي، د هغۀ نه پيسې وغورځيږي- بيا هغه داسې رټلے کيږي چې د الله پاک پناه--!! ❁ په لاره د تللو په وخت که د چا اوګه زمونږ سره وجنګيږي، خلق ګوريدل شروع کړي، بعضې وخت خو په دې خبره باندې جګړه هم کيږي ❁ که د چا ښپه زمونږ د ښپې د پاسه راشي نو برداشت کيږي نۀ ❁ که موټر سائيکل والا د ګاډې سره وجنګيږي نو بيا فوراً په غصه کښې بريک وهلے کيږي، ګير چاپيره خلق هم متوجه شي چې څۀ وشو؟ د موټر والا د غصې نه رنګ بدليږي رابدليږي او راکوز شي، بيا چې په سړک باندې د کوم شرافت نه کار اخستے کيږي، د الله پاک پناه--!!

داسې نورې ډېرې معاملې دي کومې چې زمونږ په نارمل ژوند کښې عام طور کیږي- کاش چې زمونږ د حِلم دولت نصیب شي، کاش چې مونږ غصه څښونکي جوړ شو، غصه قابو کوونکي جوړ شو-

## چرته بردباري کمه نۀ شي!

یو ځل یو کَس د حضرت امیر معاویه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ سره سختې خبرې اوکړې نو چا ووئیل: که تاسو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ وغواړئ نو دۀ له عبرت ناکه سزا ورکولے شئ- په دې باندې امیر معاویه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ وفرمائیل: ما له د دې خبرې نه حیا راځي چې زما د رعایې د څۀ غلطۍ په وجه زما حِلم او بُردباري کمه شي-(1)

## د ټولو نه لوئي سردار څوک؟

د حضرت امیر معاویه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په بارګاه کښې پوښتنه وشوه: د ټولو نه لوئي سردار څوک دے؟ اوئې فرمائیل: کله چې ترې څۀ وغوښتے شي نو د ټولو نه زیات سخي وي، په محفلونو کښې د ښو اخلاقو په لحاظ سره ښۀ وي او هغه چې څومره هم کم تر وګڼلے شي نو هُم هُغه همره د حِلم او بردبارۍ نه کار اخلي-(2)

د صحابئ رسول، حضرت امیر معاویه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په وسیله دې الله پاک زمونږه هم د حِلم دولت نصیب کړي- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم-

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د سخاوت فضیلتونه

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** د حضرت امیر معاویه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ دویم ښکلے او اهم صفت

---

1...حلم مُعاوِیه لابن ابی دنیا، صفحه:22، رقم:14-

2...تاریخِ مدینه دمشق، رقم:7510، مُعاوِیه بن صخر ...الخ، جلد:59، صفحه:186-

دے: جُود يعنې سخاوت- دا هم ډير اعلیٰ صفت دے- د سخاوت په فضيلت باندې 4 حديثونه مبارک واورئ! (1): سَخاوت د جنّت په وَنو کښې يوه ونه ده، د کومې څانګې چې د زمکې طرف ته راښکته شوې دي، کوم ګس چې په دې کښې يوه څانګه ونيسي، هغه، هغه د جَنَّت طرف ته بوځي-[1] (2): تَجَافَوْا عَنْ ذَنْبِ السَّخِيِّ فَاِنَّ اللّٰهَ اٰخِذٌ بِيَدِهٖ كُلَّمَا عَثَرَ يعنې د سخي غلطي معاف کوئ، ځکه چې کله هم هغه خطا کوي نو الله پاک د هغهٔ لاس نيسي- [2] يعنې الله پاک د هغهٔ مددګار وي چې هغهٔ ته په هلاکت کښې د غورځيدو نه نجات ورکوي-[3] (3): ❁ سخي الله پاک ته نزدې دے ❁ جَنَّت ته نزدې دے ❁ خلقو ته نزدې دے ❁ د وور نه لرې دے ❁ او کنجوس [يعنې شوم] د الله پاک نه لرې دے ❁ د جَنَّت نه لرې دے ❁ د خلقو نه لرې دے ❁ وور ته نزدې دے او جاهل سخي، د الله پاک په نزد د شوم عالِم نه بهتر دے-[4] (4): اے اِنسانه! که تهٔ بچ کړے شوے مال خرچ کړې نو ستا د پاره ښه ده او که هغه وساتې نو ستا د پاره بده ده او په قدر د ضرورت که د ځان سره وساتې نو په تا ملامتيا نشته او په ورکولو کښې د خپل بال بچ نه شروع اوکړه او بره لاس د لاندې لاس نه بهتر دے- [5]

د دې حديث په شرح کښې د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: يعنې د خپلو ضرورتونو نه بچ شوے مال خيرات کول، يخپله هُم ستا د پاره فائده مند دے چې په هغې سره ستا څهٔ کار اونهٔ دريږي او تا ته په دُنيا او په اخرت کښې بدله ميلاؤ شي او هغه د ځان سره ساتل، يخپله هم ستا د پاره خراب

1...شعب الايمان، باب فی الجود و السخاء، ۷/۴۳۴، حديث: ۱۰۸۷۵۔

2...شعب الايمان، باب فی الجود و السخاء، ۷/۴۳۳، حديث: ۱۰۸٦۷۔

3...اتحاف السادة المتقين، ۹/۷۲۵، ملخصاً۔

4...ترمذی، کتاب البر و الصلة، باب ماجاء فی السخاء، ۳/۳۸۷، حديث: ۱۹٦۸ بتغير قليل۔

5...مسلم: کتاب الزکاة، الحديث: ۱۰۳٦، ص ۵۱٦۔

دي، ځکه چې هُغه څيز به ضائع شي او تۀ به د ثواب نه محرومه پاتې شې، ځکه حُکم دے چې نوې جامې بيامومې نو زړې خيراتي کړه، چې نوے پيزار رَبِّ کريم درکړي نو زوړ پيزار کوم چې ستا د ضرورت نۀ دے، چا فقير له يـې ورکړه چې ستا د کور ګند به لرې شي او د هغۀ به څۀ پۀ کار راشي- نور فرمائي: پۀ دې کښې دوه حکمونه بيان شول، يو دا چې کوم مال دا وخت زيات دے، سبا به يـې ضرورت پيښيږي، هغه جمع کړئ، نن پۀ نفلي صدقه ورکولو سبا پخپله خير مۀ غواړئ، دويم دا چې خيرات وړومبے خپل خپلوانو غريبانو له ورکړئ، بيا نا اشنا خلقو له ځکه چې خپلوانو له پۀ ورکولو کښې صدقه هم ده او صِله رحمي هم- (1)

## د بيان خلاصه

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** نن مونږه د عظيم صحابي حضرت امير معاويه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ښکلي ښکلي اوصافو مبارکو اوريدو سعادت اومندلو هغوي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په نيکو باندې حريص ،ډير زيات سخي ،ډير بردبار وو- هغوي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ هغه صحابي دے چا ته چې جبرائيل عَلَیْہِ السَّلَام هم سلام کړے ،هغوي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ته دالله پاک حبيب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دعاګانې کړي، پۀ خپله ژبه مبارکه باندې يې د جنت زيرې وکړي دي ،هغوي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د اهل بيت کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم سره محبت کولو والا او پخپله د الله پاک او د هغۀ د خوږ حبيب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم محبوب هم دے

الله پاک دې مونږ ته د هغوي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ او د ټولو صحابه کرامو او اهل بيت عظامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم رښتونے محبت رانصيب کړي - اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم-

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

---

1... مرآۃ المناجیح شرح مشکاۃ المصابیح، ج۳، ص۰۷-۷۱۔

## پۀ 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: علاقائي دوره

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! د نيک نـمونځ ګزاره جوړيدو، پۀ سُنَّتو باندې د عمل کولو د جذبې موندلو، د نيکو نه د ډک ژوند تيرولو د پاره د دعوتِ اِسلامي د دِيني ماحول سره خپل تړون نور هم مضبوط کړئ، پۀ 12 ديني کارونو کښې عملي طور شرکت وکړئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! د دين او دنيا بے شميره خيرونه به مو نصيب شي- پۀ 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار دے: علاقائي دوره-

**د حديثِ پاک خلاصه ده:** پۀ کومه شپه باندې چې د الله پاک پۀ لاره کښې دوره پريوځي، هغې ته به د دوزخ وور نۀ ورنزدې کيږي (1) ❁ د نيکۍ د دعوت ورکولو، د ګناه نه د منع کولو د پاره د کور نه وَتل هم د الله پاک پۀ لاره کښې وَتل دي ❁ زمونږه خوږ آقا او مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د نيکۍ دعوت ورکولو د پاره بازارونو ته تشريف وړلو ❁ مختلفو قبائلو ته به يـې د تللو سره هم د نيکۍ دعوت ورکولو- (2) **د دعوتِ اسلامي والا عاشقانِ رسول** هم د دې ښکلې ادا د ادا کولو کوشش کوي ❁ کور کور، دُکان دُکان ته د تللو سره د نيکۍ دعوت ورکولے شي ❁ خلقو ته جومات ته د راتللو دعوت ورکولے شي ❁ د نـمونځونو ترغيب ورکولے شي ❁ مونږ دې ته علاقائي دوره وايـو ❁ تاسو هم د عاشقانِ رسول سره پۀ شريکه علاقائي دوره کوئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم!

❁ د انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام پۀ سُنت باندې به د عمل کولو سعادت درنصيب کيږي
❁ د نيکۍ د دعوت عام کولو ثواب به ميلاويږي ❁ د حديثِ پاک مطابق د نيکۍ لاره ښودلو والا، د نيکۍ کولو والا پۀ شان دے (3) ❁ که زمونږ د نيکۍ پۀ دعوت يو کَس هم نيک نـمونځ ګزاره جوړ شو نو يقين اوکړئ چې مزې به مو شي- راځئ چې د ترغيب د

---

1…مسند امام احمد، جلد:6، صفحه:507، حديث:16356۔
2…سیرتِ مصطفٰی، صفحه:115و148 ملتقطاً۔
3…ترمذی، ابواب العلم، باب ماجاء الدّال…الخ، صفحه:628، حديث:2670۔

پاره يو مدني سپرلے واورو:

## د جومات طرف ته روان شول

د عاشقانِ رسول يوه مَدَني قافله د دريو ورځو د پاره د سندھ ټنډو آدم ښار ته ورسيدله، په کومه کښې چې د اوريدو او وئيلو د صلاحيت نه محرومه اِسلامي وروڼه هم شامل وو- هغوئي د جومات سره نزدې په ميدان کښې د کرکټ کوونکو ځلمو خوا له لاړل، د مَدَني قافلې يو عمومي اِسلامي ورور هلته کښې موجودو ځلمو ته ووئيل چې زمونږ سره د اوريدو او وئيلو د صلاحيت نه محرومه اِسلامي وروڼه هم دي، دوئي به تاسو ته په اِشارو کښې د نيکۍ دعوت درکوي- بيا ړندو او چاړاګانو اِسلامي وروڼو په اِشارو د نيکۍ دعوت وړاندې کړو او هلته يې موجودو ګسانو ته جومات ته د تللو ووئيل- عمومي اِسلامي ورور هم داسې ترغيب ورکړو چې دا اِسلامي وروڼه د وئيلو او اوريدو د قوت نه د محرومه کيدو باوجود د نيکۍ د دعوت د پاره راوتلي دي، اللّٰه پاک مونږ ته دا نعمتونه راعطا کړي دي که چرې مونږ د دوئي په دعوت باندې جومات ته لاړ شو نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! د دوئي زړونه به خوشحاله شي- دا يې چې واوريدل نو هغه کرکټ کوونکو ځلمو سرونه ټيټ کړل او د مبلغ سره د جومات طرف ته روان شول-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## يو څو ضروري اِعلانات

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! يو څو ضروري اِعلانونه واورئ! ❁ د هر خالي په ورځ امير اهلِسُنَّت مولانا محمد الياس عطار دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه په مَدَني چينل باندې لائيو هفته واره مَدَني مذاکره کوي، د راتلونکې خالي په ورځ به هم په مَدَني چينل باندې د ماسخوتن د نمونځ نه پس(تقريباً 8:15 بجې) اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! هفته واره مَدَني مذاکره کيږي، په کومه کښې چې به شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت مولانا الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه د

سوالونو جوابونه هم ورکوي- ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول پهٔ دې مَدَني مذاکره کښې ېڅپله هم شرکت وکړئ او نورو له دې هم دعوت ورکړئ ❀ شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه هره هفته د يوې دِيني رسالې د لوستلو اعلان کوي، پهٔ راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به د رسالې **تفسير نورالعرفان نه 77 مدني ګلونه (قسط9)**رسالې اعلان کولے شي- دا رساله ېڅپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ او څوک چې سوشل ميډيا مثلاً واټس ايپ وغيره استعمالوي هغوئي دې د الله پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شيئر (***Share***) کړي! ❀ روژې د الله پاک د قرب موندلو يوه ذريعه ده، پهٔ **رجب شريف** او **شعبان شريف** کښې د نفلي روژو نيولو ترغيب راکړے شوے دے، ېڅپله به خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم او صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُم پهٔ دې مياشتو کښې نفلي روژې نيولې- مکتبة المدينه د نفلي روژو پهٔ فضيلتونو او برکتونو مشتمله يوه رساله پهٔ نوم د **نفل روزوں کے فضائل** او ترغيبي **پمفلټ** چاپ کړے دے-

تاسو دا رساله د مکتبة المدينه د هرې يوې څانګې نه پهٔ **25 روپے** او پمفلټ پهٔ **2 روپے** پهٔ بيعه اخستے شئ، ېڅپله يې هم ولولئ او نورو له هم د دې دعوت ورکړئ!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## په رجب کښې د لوستلو دعا

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د رجب مبارکه مياشت روانه ده د نبيانو نبي،رسول هاشمي ،مکي مدني، محمد عربي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم انداز مبارک وو چې کله به د رجب مياشت راغله نو دا دعا به يې لوستله

اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِیْ رَجَبٍ وَّ شَعْبَانَ وَبَلِّغْنَا رَمَضَان

**ترجمه:** اے الله پاکه !تۀ زمونږ دپاره په رجب او شعبان کښې برکتونه کيږدې او مونږه رمضان ته ورسوې۔[1]

راځئ !مونږه هم دا دعا لولو

اَللّٰھُمَّ بَارِكْ لَنَا فِیْ رَجَبٍ وَّ شَعْبَانَ وَبَلِّغْنَا رَمَضَان

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د بيان پۀ اخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د يو څو ادابو بيانولو سَعَادت حاصلووم۔ تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِیْ فَقَدْ اَحَبَّنِیْ وَمَنْ اَحَبَّنِیْ کَانَ مَعِیَ فِی الْجَنَّۃِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت وکړو هغۀ زما سره محبّت وکړو او چا چې زما سره محبّت وکړو هغۀ به پۀ جَنَّت کښې زما سره وي۔ [2]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جَنَّت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د وعدې پابندي سُنَّت ده

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **2 فرامين مبارک دي:** (1): څوک چې وعده نۀ پوره کوي، د هغۀ هيڅ ايمان نشته۔[3] (2): کوم مسلمان چې د خپل ورور سره وعده خلافي اوکړي پۀ هغۀ باندې د الله پاک او د فرښتو او د ټولو انسانانو لعنت دے۔ [4]

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** وعده پوره کول د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بلکې د انبيائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلام سُنَّت دي ✿ زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے

1...مُسْنَدِ بَزّار، جلد:13، صفحه:117، حديث:6496۔

2...تاريخ دمشق، جلد:9، صفحه:343۔

3...مصنف اِبْنِ اَبِي شيبه، کتاب: الايمان، جلد:7 صفحه:223۔

4...بخاری، کتاب: جِزْيه، صفحه:815، حديث:3179۔

صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به پۀ خپله وعده کلک ولاړ وو او ❁ وعده ماتول به يې نۀ خوښول ❁ د نبوت د اعلان نه مخکښې يو ځل يو کس نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته عرض اوکړو چې: تاسو ودريږئ! زۀ دا دے اوس راځم، هُغه کس لاړو خو واپس راتلل ترينه هير شول، 3 ورځې پس هغه ته بيا ورياد شول، چې کله هغه هُغه ځائے ته راورسيدو نو حيران پاتې شو چې رسولِ هاشمي، مَکي مَدَني صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د 3 ورځو تيريدو باوجود هم پۀ هغه ځائے کښې تشريف فرما وو او مَاشَآءَاللّٰه! شفقت او رَحمت او ښه اخلاقو ته يې وګورئ! چې رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هُغه کس اونۀ رټلو او نۀ پۀ جلال کښې راغلو، بس دومره يې وفرمائيل: اے سړيه! تا زۀ پۀ مشقت کښې واچولم- (1) اللّٰه پاک دې مونږه هم د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ سُنَّت باندې عمل کوونکي او وعده پوره کوونکي جوړ کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبة المدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سنّتيں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي پۀ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے-

سنّتيں سيکھنے تين دِن کے ليے | ہر مہينے چليں، قافلے ميں چلو

اللّٰه پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

---

1...اَبُو داؤد، كتاب ادب، باب في العدة، صفحه:781، حديث:4996-

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډكه اجتماع كښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعې [یعنې د جُمعې د شپې] دُرُود

بُزرګانِ دینو فرمائیلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (یعنې د جُمعې او زیارت مینځنۍ شپه كښې) دا دُرُود شریف په پابندۍ سره كم ازكم یو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت كښې د سركارِ مدینه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دیدار كوي او قَبْر كښې د داخلیدو وخت كښې هُم، تر دې چې سركارِ مدینه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر ته د خپل رَحمت نه په ډكو لاسونو باندې كوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شریكه دا دُرُود اووائیو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدِنِ النَّبِیِّ الْاُمِّیِّ الْحَبِیْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِیْمِ الْجَاہِ وَعَلٰی اٰلِہٖ وَصَحْبِہٖ وَسَلِّمْ

### ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

د حضرتِ سیِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روایت دے چې تاجدارِ مدینه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو د كښیناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودریدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شریكه دا دُرُود اووائیو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِہٖ وَسَلِّمْ

### ﴿3﴾ د رَحمت اویا دروازې:

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اویا دروازې بیرته كړے شي.[2] راځئ

---

1...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسۃ والخمسون، ص۱۵۱ملخصاً

2...القول البدیع، الباب الثانی، ص۲۷۷

چې دا دُرُود هُم په شريڪه اووائيو:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿4﴾ د شپې لا که دُرُودشريف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لا کو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.(1) راځئ چې په شريڪه ئې اُووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُم حيران شول چې دا څوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبې والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.(2) راځئ چې مونږه ئې هُم په شريڪه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف

---

1... افضل الصلوات علی سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص١٤٩

2... القول البديع، الباب الاول، ص١٢٥

اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتې د يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ

رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

1...الترغيب والترهيب، كتاب الذكر والدعاء، ۲/۳۲۹، حديث: ۳۰

2...مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب في كيفية الصلاة...الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث: ۱۷۳۰۵

3...تاريخ ابنِ عساكر، ۱۹/۱۵۵، حديث: ۴۴۱۵